انجنير سيد عبدالقادر


۲۷ ـــ۴ ـــ۲۰۰۹

## په نامه ټولټاکني او که دسياسي حل ريښتينه لاره !

په چـل او چم دبيگانــوو تـول پوهـيږي    داملت کـه نن زوريـږي نـور پـخيـږي
ټـيـټ سـر يـي دتـاريخ پـه يادکـي نسته    هر يرغل چه باندي کيـږي بيا ماتيږي
ژر بــه خــلاص کړي خپل وزر دبـل دلومي    دعقـاب په شان به بيرتـه پورته کيږي
دلـتـه بيـا تــاريـخ تــکـرار دي اي عـالــمـه    هر غليم به دبراېدن په شان گوډيـږي

په دې هکله دلته څو سوالونه رامنځ ته کيږي :

۱ـ ولي امريکا ، غربي نړي ، تيکنوکراتان او لوي جنګ سالاران ، دغه په نامه ټولټاکنو ته زور وهی چه ژر تر ژره ځانونه ورسوي ،اودا غير مشروع او د افغان ملت دارادی څخه ليري ټو لټاکني تر سره کړي ؟ .

۲ـ ولي دوې ټوله دسياسي حل د لاري څخه فاصله نيسي ؟

۳ ـ ايا دغه ټولټـاکني بـه دې ځوريدلي ملت تـه امنيت اود ښـه ژوند زيري راوړي ؟ او کـه بـه اوسني زور واکو ته نوره هم پر ملي شتمنيوباندي دچور او چپاول زمينـه مساعده کړي ؟چه بـه نتيجه کي به د خارجي لښکرو شتون ته نور هم د بقأشرايط په شکلي ډول مساعد کړي .

پورتنيی هغه مهمي اوافغان ملت په راتلونکي پوري تړلي پوښتني دي چه بايد جواب ورته پيدا کړل سي . خوزه به په دې لنده ليکنه کي دخپل نظره ددې سوالو وجوا بونو ته لږ څه ځان ورنيژدې کړم .

لومړي بايد وويل سي چه دغه ټولټاکني په افغانستان کښي په داسي وخت کي تر سره کيږي چه دا زوريدلي ملت دامريکا او غربي نړي دنظامي يرغل په اتم تلين کي قرار لري . او ددي څو کلونو په مدت کښي په لس هاوو زره کوچنيان ، ښځي ، زاړه او ځوانان ددوي تر بمباردونو لاندي راغلي او په شهادت رسيدلي دي . او دمملکت د شرقي ، جنوبي ، اوغربي سيموځيني محلات روز مره ددوي او دولت دسياسي مخالفينو ( مقاومت )تر منځ دجنګ په تاوده ډګرونو تبديل سوي دي . چه په نتيجه کښي ددې سيمواو ولايت تر منځ دولتي اړيکي داسي شکيدلي دي ، چه دولتي مامورين نسي کولاي چه بي له يوه امنيتي قطار يا دالوتکي پرته دولايت دمقام سره اداري غونډي وکړي ، او خپلي ستونځي دنيژدې حل کړي . حتی په اوس مهال کي ديرو ولسواليو مرکزونه ددولت دسياسي مخالفينوپه ولکه کي قرار لري . چه اوس ددې سيمو دولايت مقامونه هم ديرو جدي امنيتي ګوا ښونو لاندي راغلي دي . په داسي حا ل کښي چه اوس دشمالي سيمو په ځينو ولايتونو کښي ددولت سياسي مخالفينو هم خپله دنفوذ ساحه پيدا کړي او دجمعي رسنيو

ځخه داسي معلوميږي چه هلته هم دولتي  حاکميت مخ پر لړ يدو دي ۰ نو په داسي شرايطوکښي به په کوم تعداد خلګ  په  دي ټولټاکنو کښي چه دامريکا او ناټو تر بيرغونو لاندي سرته رسيږ ي ګډون وکړي  ؟او خپله ريښتينه اراده دي څرګنده کړي  ۰ په داسي حال کښي چه په دې  اوو کلونو کښي نه تنها خلګو امنيت بلکه په اقتصادي ساحه کښي هم هر څه دلاسه ورکړي ، ولي په عوض کښي غربي تيکنوکراتان او جنګ سالارانودناټو دقواوودشتون په زور  ددې  ملت په ملي شتمنيو  دلس هاوو او سل هاوو ميلونو ډالرو خاوندان سوي دي ۰

بايد وويل سي چه دځو هفتو راهيسي دافغانستان په داخل او بهر کښي دجمهوري رياست ټولټاکنو له پاره يوتعداد افغاني  شخصيتونو خپل ځانونه ودې مقام ته نومولي دي  ۰ چه ددوی ترمنځ ودي مقام ته درسيدو له پاره داسي  هلي  ځلي  رواني  دي ، چه دځينو  کانديدانو يوه پښه په لندن او بله يي بيا  په واشنګټن کښي  وي  ۰ دا ځکه چه دوي  په دې  پوهيږي  چه هم دغه دوه ځايه دي  چه دجمهوري  رياست دتاج دپر سر کولو صلاحيت لري  نه د افغان لاس تړلي  ملت اراده ۰ بايد وويل سي چه ددې  نومول سوو  او احتمالي کانديدانودجملي څخه يو لړ  دداخلي او خارجي مختليفو جمعي رسنيو  له لاري وافغان لاس تړلي ملت ته دخپل مصنوعي صداقت او ملت ته د وفاداري اود تيرو اوو  کلونوددولتي چارواکو  پر کړنو  باندي داسي شديد  انتقادونه کوي چه سړي فکر کوي چه د دي اووکلونو  نا خوالو اود ملت په زوروِلو کي دوي هيڅ  سهم نه درلودي ۰ په داسي حال کښي چه دوي  دبن دکنفرانس دفعالو ګډونکوودجملي څخه شميرل کيږي او ځيني بيا ددولت فعاله غړي هم سول ۰ولي دا يو لړ کانديدان دافغانستان داوسني لانجي د سياسي حل دريښتيني  لاري څخه په ښکاره ډول فاصله نيسي  ۰ځکه نو   ددوی  دجملي څخه يو تعداد کانديدان کوښښ کوي  چه امريکا او انګليسي واکدارانو ته خپله ريښتينه وفاداري  او  غلامی تر هر بل کاندي ډيره وښيي ، اوهغو ته داسي  څرګنده کړي  چه ترما به بل ريښتيني  ګوډاګي پيدانکړي ، او تنها زه يم چه دافغان لاس تړلي  ملت پاته  ملي  شتمنيو ته درسيدو پر لاره  هره تړلي  دروازه به  ستاسو پر مخ خلا صه کړم ۰ او ددې ملت  هر څه به  ستاسو په اختيارکي کښيږدم ، که په مقابل کښي تاسي لطف او مهرباني وکړي  دغه دجمهوري  رياست دسرو زرو تاج زما پر سرباندي کښيږدي۰

اوس نو اصلي خبره  دا  ده چه دغسي يوه   مملکت  چه د۳۷ مملکتونو تر مستقيم ير غل لاندي راغلي وي  او په مملکت کښي هر څه  که په ( سياسي ، اقتصادي ،  نظامی ، او حتی په فرهنګي ساحه کښي هم   وي ، ديرغلګرو دستراتيژيو سره سم مخ ته روان وي ،  نو په داسي حالاتو کښي به کوم کانديد چه  افغان ملي ګټو ته وفاداره وي وکړايسي دخلګو دارادي په زور دي  ودي سپيڅلي مقام ته ورسيږي ۰ ځکه نو ( خواب است ، مهال است وجنون )۰ نو په داسي شرايطو کښي چه هر څه دپردو په لاس کي دي نوولي  يو تعداد شخصيتونه ، چه ځانونه ملي ګټو ته وفاداره بولي ، وداسي لوي سياسي  لوبي ته ځانونه داخلوي ؟په داسي حال کي  چه دلوبي مشري هم ديرغلګرو په لاس کي ده ۰  او هر هغه ځوک چه ددوي دګټو ريښتيني مدافع اوو دوي ته وفاداره وي هغه به دلوبی ګټونکي اعلانيږي ۰  او بيا به په خپل نظامي او اقتصادي زور باندي په  داخلي او غربي  جمعی  رسنيوکي به دا غير مشروع او دافغان ملت دارادي خلاف  ټولټاکني به ديوره مشروعيت په خوندوروکلماتو باندي په  نشر رسوي  ۰ او دواقعيت ځخه  په ليرو سياسي تبصرو کي به   دا ټولټاکني  دخلګو دريښتيني ارادي ښکارندويي بولي ۰

نوايا  افغان ملي ګټو ته وفاداره شخصيتونو ته دا ضرور ده چه ځان وداسي يوي پردۍ سياسي لوبي ته ورواچوي ؟ ايا دابه ودغه غير مشروع انتخاباتو ته  دده دنظره ځخه يو مشروعيت ورکول نه و ي ؟

په داسي  حال کي چه امريکا او غربي نړي ودي ته سترګي په لاره دي ، چه ددوي ودي نا مشروع لوبي ته ډيرکسان ځانونه ورداخل کړي چه  ددوی دقلابي ډموکراسي تمثيل هم پکښي ځرګند سي ۰

باید وویل سي چه په دي ټولټاکنو کښي دیو تعداد تیکنوکراتانو او لوي جنګ سالارانو هدف یو دي ۰ هغه داچه دافغان لاس تړ لي ملت وطبعي شتمنیوته ځانونه رسول دي ۰
ځکه دمجاهدینو ددولت دپینځو کلونو او دتیکنوکراتانو او لوي جنګ سالارانو دوروستنییواوو کلونوتحمیل سوو حاکمیتونو دا ښکاره په ډاګه کړل، چه دوي ودې هدف ته درسیدو له پاره خپل تر منځ هر نوع مصلحتونواو معاملوته حاظر سوي او پر هم دي لاره مخ ته ځي ۰ ځکه نوکه تیکنوکرات جمهور ریس کړي معلومه خبره ده چه معاونین به یي لکه دکرزي معاونین هغه به هم لوي جنګ سالاران وي ۰ اوکه جنګ سالار جمهور ریس کړي نو معاونین به یي غربي تیکنوکراتان وي ۰ ځکه نو دغه دواړه سیاسي او جنګي ګروپونه نه غواړي چه دافغانستان اوسني کشاله دي ژر تر ژر ه دسیاسي حل ریښتینه لاره پیداکړي۰ ددوي څرګندوني هر وخت دیرغلي قواوو دشتون په ګټه وي ۰ ځکه نو دوي وخپل هدف ته درسیدو په هیله دناټو دقواوو شتون دیوه نا معلوم وخت له پاره لازم بولي ۰ ځکه دوي به اوس مهال کښي دخارجي قواوو دشتون په زور دملت پرمنقولو او غیر منقولو شتمنیوباندي لاسونه راګر ځولي ، او ملت یي بي برخي کړي ، او غواړي چه دا پروسه نوره هم وسعت او تحکیم پیدا کړي ۰او په عوض کښي به بیا یرغلګرو قواوو ته نوره هم دهر نوع بشري او اقتصادي جنایاتو دکولو لاره خلاصه کړي ۰
ځکه نو ددغه ټولټاکنو دتبلیغاتي کمپاین په درشل کښي دوي کوښښ کړي او کوي یي چه خپل تر منځ یو زرګري جنګ شروع کړي ۰ هغه داچه دوي یو پر بل باندي شدید انتقادونه او په اداري او اقتصادي فساد باندي یو او بل متهمول او دکاري کفایت نه درلودل چه دا ټولی هغه څرګندوني دي چه غواړي دیوه طرفه افغان ملت ته فریب ورکړي او دبله طرفه دامریکایي او ناټویي یر غلګرو دډموکراسي تمثیل څرګند کړي ۰
چه په دي اړوند دمحترم کرزي هغه څرګندوني چه وخلګو ته دیوي جلسي په تر خ کي دکابیني غړي او یو تعداد وکیلان په دي متهم کړل چه ( دملت په شتمنیو باندي یي په داخل او خارج کښي بیلډینګونه جوړ کړي او په خارجي بانکونو کښی ډالرونه ذخیره کړي دي )ولي څوک یي دمحکمي او حساب ومیز ته راکش نه کړ ل ۰ دپورتني ادعا ښکاره ثبوت دي ۰

ا وباید وویل سي چه ودي ټولټاکنو ته دجمعي رسنیو په حواله نیژ دي ۴۳ کسانو ځانونه نومولي دی ۰ چه دا هم دافغانستان په اوسنیو شرایطوکښي دتعجب وړ خبره ده ۰ هغه داچه ددی ټولو کاندیانو دجملی څخه یوازي څلور یا پینځه کسه دي چه ودې مقام ته درسیدو امکانات یي نظر ونوروته ډیر دي ۰ او شایدبیا ددوي دجملی څخه یو دامریکا داوسنی اداري له پاره لازم او دتائید وړ وګرځي ۰ چه دا کسان عبارت د محترم ( کرزي ، جلالي ، اشرف غني ، احدي ، ګل آغا شیر زي ) څخه دي اوداهم دامکانه لیري خبره نه ده چه یو بل نوي کاندید په دې ورځو کښي رامیدان ته سي او دامریکا او انګلیس ملا تړ ورسره وي ۰
ولي څو هفتي مخکي محترم خلیل زاد هم په ناڅاپه ډول دټولټاکنو ولوبي ته ځان ورنیژدي کړ ۰ دجمعي رسنیو څخه داسي معلومیدل چه محترم بیات هم په دي لاره کي ورسره ملګري وو ۰ مګر دڅو ورځو دتبلیغاتي کمپاین وروسته داسي معلومه سوله ، چه شرایط یي درک او دخاموشي لاره یي اختیار کړل ۰
ولي دنورو کاندیدانو دکامیابي چانس په اوسنیو شرایطو کښي دامکان څخه لیري معلومیږي ۰ باید وویل سي چه په دي ورستنیو څو هفتو کي دامریکا دنوي اداري نظر دکرزي په وړاندي دپخواه په څیر نه بلکه مثبت ارزیابي کیدلایسي ۰ هغه داچه دامریکا خارجه چارو وزیري دهاګ په لویه نړیواله جلسه کښي داسي وویل :
در این فرصت میخواهم ازنقش نهایت مهم ریس جمهور کرزی دررهبری افغانستان تقدیم کنم حکومت ریس جمهور کرزی در ایحاد ستراتیژی جامع وموثر ی که همه ما روی آن بحث میکنیم خیلي کمک کرده است ۰

په داسي حال کښي چه ددي ځرګندونوڅخه څو هفتي مخکي دامريکا نوي اداري دافغانستان دولت يي په اداري فساد لړلي او دمخدره موادو په توليداوقاچاق کي شريک بللي و ٠
اوس نو اصلي خبره داده که د دي تولټاکنوپه پيله کښي دلوبي مشري بيرته وکرزي او يا بل شخص ته هم وسپارل سي ٠ او لوبغاړو ته يي هم دافغان ملت دتير وتلو دپاره تغير ورکړي ،ولي اهداف به يي تغير ونه خوري نو په نتيجه کي به دالوبه په نوره هم د سختوامنيتي ، سياسي او اقتصادي ګواښونوسره مخامخ سي ٠ اوبيا به دحل لاره نه تنها افغانانوته بلکه دمنطقي هيوادونو اوجهانيانو ته به هم په لويه قرباني تمامه سي٠ولي په اوس مهال کي يرغلګر څواک په دي وطن کښي هر خپل ګوداګي دولت مشروع ، په خلګو پوري تړلي اوډموکراټ ښيي ٠ په داسي حال کي چه ملي حاکميت پر خلګو باندي تکيه کول دامنيت راوستل ، دداخلي اوخارجي لوټمارانو څخه دملي شتمنيو خوندي ساتل ، داداري فساد له منځه وړل او وخلګو ته دکار دزميني برابرول ديوه دولت دمشروعيت عمده اصلونه تشکيلوي ٠
ولي ددي اووکلونو ديرغلګرو په حاکميت کښي دپورتنيو اصلونو څخه يو هم نه دي معلوم سوي ٠ ځکه نودافغانستان خلګو ديرغلګرو په دي حاکميت کښي دځان ، مال او ملي شتمنيو امنيت په سترګوهيڅ و نه ليدي ٠ ځکه نودا يوه طبعي خبره ده ، او ويلايسو چه ديرغلګرو تر بيرق لاندي ټول حاکميتونه چه دنړي په هره سيمه کښي قرارو لري ، په حقوقي لحاظ دخلګو په وړاندي هيڅ نوع مشروعيت نه لري ٠چه دافغانستان اوه کلن حاکميت يي ښکاره مثال دي ٠ او هر څوک چه داسي دولتونه مشروع ا ويا مشروعيت يي تر سوال لاندي وبولي ،داخپله دهغه ملت او مليتونو پر ملي ګټو باندي ځرګند تير ي او پر غل بلل کيدلايسي ٠ دپورتنيو عيني واقعيتونو په نظر کي نيولو سره زما په نظر په مملکت کښي و دي امريکايي تراژيدي سرپال ته دپاي د ټکي اينيولود پاره بايد داسي دحل يو ميکانيزم رامنځ ته سي چه دهغه ميکانيزم دعملي کولو په نتيجه کښي نه تنها دافغان ملت ملي ګټي خوندي ساتل سوي وي ، بلکه دمنطقي هيوادونه او نړيوال هم دبي امنيو دګواښونو څخه و ساتل سي ٠ چه ما ددي ميکانيزم په اړوند ددووکلونوراهيسي دافغاني ويب پاڼو ه لاري وړانديزونه کړي دي چه دلته به يي تکراراً رانقل کړم ٠

**زما په نظر روښنفکران بايد دخپل تاريخي رسالت له مخي که داروښنفکران دسياسي احزابوپه صفوفو کي متشکل وي ، اوياپه نورو اجتماعي سازمانونوکښي ، اوياده‌غو څخه دباندي دخپل ملت دپاکو ارمانونودپاره کاراوفعاليت کوي، په دي تولوحالاتو کښي دوخت تاريخي غوښتنه د ه ، چي د خپلو ملي ګټودپوره واک اخيستلو له پاره خپل ترمنځ ددي مقدس ارمان له پاره ګډ تفاهم ته سره ورسيږي ٠ کيدلايسي داتفاهم د( سياسي مشترکو غونډو ، ملاقاتونواويادنوروجمعي رسانو له لاري که هم وي .) بايد ژر ترژر ه شروع سي . اوپه دي سياسي غونډو کي بايد دافغانستان داوسني لانجي دسياسي حل له پاره پر يوه داسي ميکانيزم باندي کاراو تفاهم وسي ، چّه دهغه دتطبيق په نتيجه کي نه تنهاپه افغانستان کي امن او ثبات راسي، بلکه دافغان ملت دملي ګټو واک او اختيارهم بايد بيرته داغيور ملت په خپل لاس کي واخلي . ولي داهم لازمه ده چي دداسي يو ه حياتي او با ارزښته ميکانيزم وړانديز بايدديوه با صلاحيته منتخب کميسون په لاس باندي و ملګرو ملتونوته اوهم دجنګ دواړو طرفوته ورکول سي ، کيدلايسي داميکانيزم دلوي افغاني تفاهم په نتيجه کي پراخ او هر اړخيزه بڼه اختيار کړي٠**

**. ١ــ دامريکا تررهبري لاندي جهاني ائتلافي ځواک دافغانستان ددولت سره په ګډه اودافغانستان ددولت په مقابل کي وسله وال مقاومت بايد بي له قيداوشرطه اوربند اعلان اودملګرو ملتونوله خواه دي دواړه طرفه دمذاکري وميز ته راوبلل سي٠**

**٢ ـــ دواړه طرفه بايد دنړيوال کنفرانس غوښتونکي سي .او دسياسي حل پر دقيق ميکانيزم باندي موافقه سره وکړي٠**

۳ ـــ داکنفرانس بایددهیڅ یوه خارجي قدرت دنظامي اقتصادي اغیزي لاندي نه وي .
۴ـــ دکنفرانس ګډون کوونکي باید دافغانستان داوسني حاکمیت اوددوي په مقابل کي وسله وال مقاومت سربیره باید یو تعداد آزاد پر وطن مین کارپوهان دملي ډموکراتیکو احزابو نماینده ګان اویو تعداد په ولس کي محبوب شخصیتونه وي ۰
۵ـ دخارجي قواوودوتلو زماني جدول دي داسي جوړ سي ، چه هیڅ نوع بي امنیو ته مخه خلاصه نه کړي ۰
۶ـ که دخارجي قواوو دوتلو پر سر اوزماني جدول باندي خبرو ځان ته مشکله بڼه اختیار کړل ، نوپه هغه صورت کي دي ددغه معین وخت دپاره دملګرو ملتونو دصلح ځواک راوغوښتل سي ، یادي داسلامي نړي دهیوادونوڅخه تظامي پوځونه راوغوښتل سي .
ولي په هم دغه ټاکلي وقفه کي باید په مملکت کښی ټولي غیر قانوني سلاح دهر ګروپ څخه چه وي راټولي اودملي دفاع وزارت ته تسلیم کړل سي۰
۷ـــ داکنفرانس بایددافغانستان دملي منافعو په نظرکي نیولو سره نوي موقته اداره جوړه اوتر راتلونکي لویي جرګي ترجوړیدو پوري دولتي چاري مخ ته بوزي ۰
۸ـــ داکنفرانس باید پر جهاني ټولني باندي زور واچوي چه دراتلونکو پینځو کلونودپاره بي له قیده اوشرطه خپلو اقتصادي کومکونوته ادامه ورکړي ۰ ولي دهرکال په اخر کښي باید دپیسو دمصرف دقیق راپور واخیستل سي اودنوي کال اقتصادي کومک پیسي ددولت په اختیار کي کښیښنول سي۰
۹ـــ ملګري ملتونه باید دامنیت شورا ته وظیفه ورکړي چه په راتلونکو وختونوکي دافغانستان په داخلي چارو کي کوم خارجي هیواد مداخله ونه کړي ۰
۱۰ـــ افغانستان دولت باید دپخوا په څیر خپله عنعنوي بیطرفي وساتي او خپلي ډیپلوماتیکي اړیکي نه تنها دهمسایه مملکتونو سره بلکه دنړي دټولو هیوادونو سره دمتقابل احترام پر اصل باندي وساتي ۰

ومن الله تو فیق